# بلوڅي ژبه:

- بلوڅي ژبه د پاکستاني ويونکو ژبو څخه یوه ژبه ده، چي د بلوچستان په بلوچ مېشتو سيمو کښي وئيل کيږي.
- او د سنده په جيکب اباد، سانګهر، مير پور، نواب شاه او کراچی او د پنجاب په ډيره غازي خان، راجن پور، ملتان او مظفر ګړهه، وئيل کيږي.
- بلوڅي ژبه په اندهو-اروپائي ژبو کښي له اندو-ايراني کورنی څخه ده.
- له پاکستان څخه پرته، بلوچي ژبه د ايران او افغانستان په ځينيو برخو کښي هم وئيل کيږي.

# د بلوڅي ژبې لهجې / ګړدودونه

- د بلوڅي ژبه پر دريو لويو لهجو باندي وېشل کيږي:
- ۱ – ختيځه يا مشرقي لهجه
- ۲ – رخشاني لهجه
- ۳ – لوېديځه يا مغربي لهجه

# لهجه څه ده.

- د بلوڅي ژبې تر لهجو مخکښي د لهجې یو لنډ تعریف کوو، چي لهجه یا ګړدود څه ته وائي:

- د ژبپوهنې انسائکلوفیډیا د لهجې تعریف داسي کوي؛
- د لهجې / ګړدود اصطلاح د ژبې د نوعې په توګه کارول کیږي، چې مانا یې د یوې ژبې اړوندوې نوعې (ډول، قسم) تر څېړنې او پلټنې لاندې داسي ونیول سي چي د دوی څرګند توپیرونه او ورته والې په ګوته سي. د لهجې د اصطلاح په یوه بله توضح کښې داسي مطلب اخذ کیږي، چي لهجه د یوې ژبې و جغرافیائي نوعه ته وئیل کیږي.

- In popular usage, the term dialect usually  refers to a geographical variety of a language.

# په خج (فشار) او لهجه کښي توپير
# (Difference between Accent & Dialect)

- Technically, the term accent is restricted to the description of aspects of pronunciation that identify where an individual speaker is from, regionally or socially. It is different from the term dialect, which is used to describe features of grammar and vocabulary as well as aspects of pronunciation.

ژباړه:.

- په تخنیکي لحاظ د خج / لحن اصطلاح د تلفظ / وينګ تر تشريح پوري محدوده ده، او دا ځرګندوي چي يو انفرادي ويناوال له کومه ځايه دی. دا د لهجې د اصطلاح سره توپير لري، کومه چي د ګرامري لغتونو او د تلفظ د بيلا بيلو اړخونو د توضيح او تشريح د پاره کارول کيږي.

# ۱ – ختیځه یا مشرقي لهجه

- د بلوڅي ژبې دا ګړدود / لهجه په ډېره اسماعیل خان، ډېره غازی خان، راجن پور، ملتان، مری بګټي، نصیراباد، لاړکانه، شکارپور، سانګړ او نواب شاه کښي وئیل کیږي.
- ختیځې لهجه له سندهي او سراهئیکي سره ډېره نیزدې اړیکي لري.
- لکه: په سندهي او بلوچي کښي آنو (اګی)، بانګ (اذان)، بهت (وریځې)، وچهیر (سخوندر–دیوه کال)، زال (ماینه، ښځه)، او داسي نور ډېر مشترک توري لري.
- او له پښتو څخه یې دا توري مستعار کړي دي: لکه مرکه، ډول، بالشت، توپک، مرګی او داسي نور: لنډه دا چي بلوچي لویه ادبي پانګه په ختیځه یا مشرقي لهجه کښي ده.

# ۲ – رخشاني لهجه:

- رخشاني لهجه په قلات، نوشکي، خاران، ايراني بلوچستان او د افغانستان نوشکي پوله ته نيزدې لږ سيمو کښي وئيل کيږي.
- پر دې لهجه باندي دايراني او افغانستان پارسي ډيره اغيزه سوې ده.
- دا لهجه په تيرو پنځو کلونو کښي تر نورو دوو لهجو/ ګړدودونو زياته پرمختګ کړئ دی او پر نورو لهجو باندي خپل اثر شيندلی دی.

# ۳ – لویدیځه یا مغربي لهجه

- لویدیځه لهجه زیاتره په مکران ډویژن، کراچۍ او ایراني بلوچستان کښې وئیل کیږي.
- پر دې ګردود باندي د جدیدې پارسي زیات اثرات لیدل کیږي.

# د بلوڅي او برائیوي ژبو په مینځ کښي توپیر

- بلوڅي او برائیوي دوی بیلي ژبي دي، چي یوه (بلوڅي) د ژبو په اندو- اروپائي کورنۍ کښي له اندو-ایراني ښاخ څخه ده.

- او دویمه (برائیوي) د دراوړي ژبو له کورنۍ څخه یوه ژبه ده، چي یو لرغونی تاریخ لري.